# سل سوالونه او د هغې جوابونه په عقیده د توحید کې

لیکنه:

عبد العزيز بن محمد الشعلان

وكيل وزارة الشؤون الإسلامية لشؤون الدعوة والإرشاد

ترجمه: الدكتور عبد الحكيم كل زرين

مراجعه: الشيخ محمد طاهر ظهير والشيخ نور حبيب عجب كل


بسم الله الرحمن الرحيم

## بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على أشرف الأنبياء والمرسلين... أما بعد:

دا سوالونه او د هغی جوابونه په عقیده د اهل سنت والجماعة او په هغه اصلی بنیاد د توحید د الله او د هغی د ضد چی شرک دي په الله سره او د هغی د وسایلو نه په ځان ساتلو کی دی، ډیر په اسانه او مختصره طریقه می جوړ کړی، او ددی خیال می پکی ساتلی چی لوستونکی پری په اسانه پوهه شی.

له الله سبحانه وتعالی ښخه غواړم چی په دی سره نفعه او فایده ورسوی.

عبد العزيز بن محمد الشعلان

# په عقیده د توحید کی سوال او د هغی جواب

**س۱/ مونږ توحید ولی لولو؟**

ج۱/ ځکه چی هغه د ټولو اصولو بنیاد دی او د هغی د وجی نه الله پیریان اوانسانان پیدا کړی، او الله رسولان لیږلی او کتابونه یی نازل کړی او جنت او جهنم یی پیدا کړی، او خلک یی تقسیم کړی مسلمانانو او کافرانو ته، الله تعالی فرمایلی: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ الذاریات ۵۶. ترجمه: او نه دی پیدا کړی ما پیریان او انسانان مګر دی لپاره چی زما بندګی اوکړی.

**س۲/ مونږ خپله عقیده له کوم ځای نه اخلو؟**

ج۲/ د قران او سنت او سلف صالحینو ددی امت نه.

**س۳/ هغه دری کوم اصول دی چی په انسان د هغی پیژاندل واجب دی او په قبر کی دهغی په باره کی تپوس کیدلی شی.**

ج۳/ پیژاندل د بنده خپل رب، او دین، او نبی لره چی محمد صلی الله علیه وسلم دی.

**س۴/ رب دی څوک دی؟**

ج۴/ رب زما الله دی هغه ذات چی زما او د ټولو مخلوقاتو پالنه یی کړی په خپلو نعمتونو سره، او هغه زما معبود دی او د هغه نه ماسوا زما بل معبود نشته، دلیل پری

دا قول د الله تعالی دی:﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ ﴾الفاتحه۲
ترجمه: ټول صفتونه د خدائتوب خاص الله تعالی لره دی چې پالنه کوونکی د ټول عالم دی.

**س۵/ خپل رب دی په څه پیژاندلی؟**

ج۵/ خپل رب می د هغه په نشانو او مخلوقاتو پیژاندلی، د هغه د نشانو نه شپه او ورځ لمر او سپوږمی دی، او د هغه له مخلوقاتو نه وه اسمانونه او وه ځمکی او هغه څوک چی په هغوو کی او د هغوو په مابین کی دی، دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿ وَمِنۡ ءَايَٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ ۝٣٧ ﴾ فصلت۳۷ ترجمه: او بعضی ددلیلونو د توحید نه شپه او ورځ او لمر او سپوږمی دی سجدی مه کوی لمر ته او نه سپوږمی ته او سجده خاص کوی الله تعالی ته هغه الله تعالی چی پیدا کړی دی دا، کچری تاسو خاص هغه لره بندگی کوی.

**س۶/ الله چرته دی؟**

ج۶/ په اسمان کی د عرش د پاسه.

**س۷/ دلیل پری څه دی د قران نه چی الله سبحانه وتعالی په اسمان کی په عرش باندی دی؟**

ج۷/ دلیل په دی چی بیشکه هغه په اسمان کی دی دا قول

د الله تعالی دی: ﴿أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ﴾ الملک ۱۶. ترجمه: ایا په امن یئ (نه ویریږئ) د هغه ذات نه چی په اسمان کی دی.

او دلیل چی بیشکه هغه په عرش باندی دی دا قول د الله تعالی دی: ﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ﴾ طه۵. ترجمه: عام رحمتونو واله دی، د عرش د پاسه برابر دی، او داسي په وو ځایونو کی د الله د کتاب کی راغلي.

**س۸/ د (استوی)څه معنی ده؟**

ج۸/ د پاسه. پورته. اووچت. او ثابت.

**س۹/ الله پیریان او انسانان د څه لپاره پیدا کړی؟**

ج۹/ یواځی د خپل عبادت لپاره چی شریک ورله نشته.

**س۱۰/ د قران نه په دی خبره دلیل څه دی چی الله پیریان او انسانان د خپل عبادت لپاره پیدا کړی.**

ج۱۰/ دا قول د الله تعالی دی: ﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ۝٥٦﴾ الذاریات۵۶. ترجمه: او نه دی پیدا کړی ما پیریان او انسانان مګر دی لپاره چی زما بندګی اوکړی.

**س۱۱/ د (یعبدون) څه معنی ده؟**

ج۱۱/ الله په بندګی کی یو ګڼل.

**س۱۲/ عبادت څه ته وایی؟**

ج۱۲/ هغه یو جامع نوم دی د هر هغه څه لپاره چی الله یی خوښوی او هغه پری راضی کیږی برابره خبره ده که هغه اقوال وی یا اعمال پټ او ښکاره.

**س۱۳/ د شهادة ان لا اله الا الله څه معنی ده؟**

ج۱۳/ معنی یی داده چی د الله نه ماسوا په حقه بل معبود نشته.

**س۱۴/ د شهادة ان محمد رسول الله څه معنی ده؟**

ج۱۴/ د هغه تابعداری په هغه څه کی چی هغه پری امر کړی، او د هغه تصدیق په هغه څه کی چی هغه تری خبر ورکړی، او ځان ساتل د هغه څه نه چی هغه تری منعه کړی، او د الله عبادت کول د هغه د شرعی موافق.

**س۱۵/ د ټولو نه غټ شی کوم دی په کوم چی الله امر کړی؟**

ج۱۵/ هغه غټ شی چی الله پری امر کړی هغه توحید دی او هغه د هغه یواځی عبادت کول دی پغیر د شریک نه، الله تعالی فرمایلی: ﴿ وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَ ﴾ النحل ۳٦. ترجمه: او یقینا لیګلی دی مونږ په هر امت کی رسول (په دی خبره) چی بندګی خاص کړئ

د الله تعالی او ځان ساتئ د (بندګئ) د غیر الله نه.

**س۱۶/ د توحید څو قسمونه دی؟**

ج۱۶/ توحید ربوبیت، توحید الوهیت، توحید اسماء وصفات.

**س۱۷/ د توحید ربوبیت تعریف څه دی؟**

ج۱۷/ د الله په کارونو کی الله یو ګڼل لکه پیدا کول روزی ورکول او باران ورول ... وغیره.

**س۱۸/ د توحید الوهیت تعریف څه دی؟**

ج۱۸/ الله چی د بندګانو لپاره کوم کار جائز کړی په هغه کی الله یو ګڼل لکه دعا، ذبحه، سجده.

**س۱۹/ د توحید اسماء وصفات تعریف څه دی؟**

ج۱۹/ کوم نومونه او صفات چی الله د خپل ځان لپاره خاص کړی په هغه کی الله یو ګڼل، الله تعالی فرمایلی: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾الشوری۱۱. ترجمه: نشته د هغه پشان هیڅ څیز او هغه هر څه اوری هر څه وینی.

**س۲۰/ د عبادت بعضی قسمونه ذکر کړه؟**

ج۲۰/ بعضی د قسمونو نه، دعا کول، فریاد کول، امداد غوښتل، ذبحه کول، نذر منل، ویره کول، امید لرل، توکل

کول، رجوع کول، محبت کول، مینه کول، رکوع کول، سجده کول، عجزی کول، ذکر کول، او د قران لوستل.

**س۲۱/ د ټولو نه لوی شی کوم یو دی د کوم نه چې الله منعه کړی؟**

ج۲۱/ هغه لوی شی چې الله تری منعه کړی شرک دی، او هغه د الله سره په عبادت کی بل څوک شریک کول، الله تعالی فرمایی: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ﴾ النساء ٤٨. ترجمه: یقینا الله تعالي نه ښنی چې شرک وکړی شی د هغه سره او ښنی هغه ګوناهونه چې کم وی ددینه هغه چا له چې وغواړی.

**س۲۲/ د شرک دوه قسمونه کوم دی؟**

ج۲۲/ اولنی قسم: لوی شرک، او هغه هر هغه څه ته ویلی کیږی چې الله او دهغه رسول ورته شرک ویلی وی، او کونکئ د اسلام نه اوباسی، لکه د بوتانو عبادت، او د مړو عبادت، او د الله نه پغیر بل چاته سجده کول.

دویم قسم: وړوکی شرک، او هغه هر هغه څه ته وایی چې په شریعت کی ورته شرک ویلی شوی وی خو کوونکئ یی د اسلام نه نه اوباسی، لکه په غیر الله قسم کول، ریا کول، او دا ویل چې د الله خوښه شی او ستا خوښه شی، او وړوکی

شرک ورته ځکه ویلی کیږی ځکه چی هغه وسیله ده دپاره د واقع کیدلو په لوی شرک کی.

**س۲۳/ په خلکو کی اولنی شرک کله واقع شوی؟**

ج۲۳/ په خلکو کی اولنی شرک د نوح علیه الصلاة والسلام په قوم کی واقع شوی.

**س۲۴/ د نوح علیه الصلاة والسلام په قوم کی د شرک د واقع کیدلو سبب څه وو؟**

ج۲۴/ سبب یی د نیکانو په باره کی غلو او زیاتی کول.

**س۲۵/ د صالحانو په باره کی د غلو(زیاتی) څه معنی ده؟**

ج۲۵/ د هغو په صفت کی زیاتی کول، او هغوی د خپلی منزلی نه اوچتول لکه بعضی عبادات د هغوی لپاره کول، دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ﴾ النساء ۱۷۱. ترجمه: ای کتاب والو زیاتی مه کوئ په دین خپل کی.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: " لا تطرونی کما اطرت النصاری عیسی بن مریم، إنما أنا عبد فقولوا: عبد الله ورسوله" رواه البخاري

معنـی"لا تطرونـي" یعنـي: زمـا پـه صـفت کـی زیـاتی مـه کوی.

## س۲۶/ مړو رابلل څه حکم لری؟

ج۲۶/ د مړو وغیرو رابلل په هغه څه کی چی د الله نه پغیر پری بل څوک قادره نه وی لوی شرک دی، چی د اسلام نه یی اوباسی، دلیل پری د قران نه ﴿ وَمَن يَدۡعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ لَا بُرۡهَٰنَ لَهُۥ بِهِۦ فَإِنَّمَا حِسَابُهُۥ عِندَ رَبِّهِۦٓۚ إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴾ المؤمنون ۱۱۷. ترجمه: او چا چی را مدد شه وویل د الله تعالی سره بل مدد ګار ته (چی اله یئ ګڼی) نشته دلیل ده لره په هغی باندی پس یقیننا پوره حساب دده د رب دده سره دی، یقیننا نه شی بچ کیدلی کافران.

## س۲۷/ ایـا د الله نـه دعـا غوښـتل د مخلـوق واسـطی تـه ضرورت لری؟

ج۲۷/ دعا د مخلوق واسطی تـه ضـرورت نـه لـری، دلیـل پــری دا قــول د الله تعــالی دی ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِ﴾ البقرة ۱۸٦. ترجمـه: کلـه چی تپوس اوکړی ستا نـه بندګان زمـا پـه بـاره زمـا کـی(پـس ورتـه ووایه زما د طرف نه) چی یقیننا زه نزدی یم قبلوم دعـا د دعـا

کوونکی کله چی دعا غواړی زما نه.

**س۲۸/ ایا مړی د دعا جواب ورکولی شی؟**

ج۲۸/ مړی د دعا جواب نه شی ورکولی، دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿ إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا۟ دُعَآءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا۟ مَا ٱسْتَجَابُوا۟ لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ﴾ فاطر۱٤. ترجمه: که چری تاسو بلئ دوی لره(د پاره د حجت پوره کولو) نو نه اوری بلنه ستاسو او که فرض کړو چی اوری نو نه شی پوره کولی حاجت ستاسو او په ورځ د قیامت به انکار اوکړی ستاسو د شرک نه.

**س۲۹/ د چا لپاره ذبحه کوو او چا لره لمونځ کوو؟**

ج۲۹/ خاص د الله لپاره چی شریک ورسره نشته، الله فرمایلی: ﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ ﴿٢﴾ ﴾سورة الکوثر۲. ترجمه: نو لمونځ کوه خاص خپل رب لره او قربانی کوه.

**س۳۰/ غیر الله لره د ذبحی او سجدی څه حکم دی؟**

ج۳۰/ لوی شرک دی، او وستونکی دی د دین اسلام نه، الله فرمایلی: ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِى وَنُسُكِى وَمَحْيَاىَ وَمَمَاتِى لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَـٰلَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُۥ ۖ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ ﴾سورة الأنعام ۱٦۲-۱٦۳. ترجمه: اووایه: یقیننا لمونځ زما او مالی عبادت زما او ژوند

زما او مرګ زما خاص الله تعالی لره دی چی رب د ټول عالم دی نشته هیڅ برخی واله د هغه او په دی سره حکم کړی شوی ماته او زه اول د توحید والو نه یم.

نسکي: یعنی زما ذبحه.

**س۳۱/ د الله نه پغیر په بل چا قسم د خوړلو څه حکم دی، لکه قسم په نبی صلی الله علیه وسلم، یا په امانت، او یا په مقام او مرتبه وغیره؟**

ج۳۱/ حکم یی: وړوکی شرک دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرما یلی:" من کان حالفا فلیحلف بالله او لیصمت" رواه البخاري، ترجمه: څوک چی قسم کوونکی وی یا د په الله قسم وکړی او یا د چوپ شی.

**س۳۲/ د الله د نومونو او صفتونو متعلق په مسلمان څه واجب دی؟**

ج۳۲/ ثابتول د هغه صفتونو اونومونو چی الله د خپل ځان لپاره ثابت کړی او یا ورله رسول الله صلی الله علیه وسلم ثابت کړی، او نفی کول د هغه صفتونو اونومونو چی الله د خپل ځان نه نفی کړی او یا تری رسول الله صلی الله علیه وسلم نفی کړی وی پغیر د تحریف او تعطیل او تکییف او تمثیل نه، یعنی نه به د هغی معنی بدلوی نه به یی بی معنی کوی نه به یی کیفیت او مثال بیانوی.

**س۳۳/ د قران نـه پـه دی څـه دلیل دی چی صفات د الله تعالی زمونږ د صفاتو سره نه دی مشابی؟**

ج۳۳/ دا قـــول د الله تعـــالی دی: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ١١﴾ الـشوری ۱۱. ترجمـه: نـشته د هغـه پـشان هیڅ ځیز او هغه هر څه اوری هر څه وینی.

**س۳۴/ ستا دین څه شی دی؟**

ج۳۴/ زمـا دیـن اسلام دی، دلیـل پـری دا قـول د الله تعـالی دی: ﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُ﴾ العمـران ۱۹. ترجمـه: یقیننـا دین(غوره) په نیز د الله تعالی اسلام دی(توحید).

**س۳۵/ ایا الله تعالی د محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت نه ورسته د اسلام نه علاوه بل دین قبلوی؟**

ج۳۵/ د محمد صلی الله علیـه وسلم د بعثـت نـه ورسته الله تعالی د اسلام نه علاوه بل دین نـه قبلوی، دلیـل یـی دا قول د الله تعـــالی دی: ﴿ وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٨٥﴾ العمران۸۵. ترجمه: او چا چی طلب کړو سوا د اسلام نه بل دین پس هیچری بـه ق۱بول نـه کړی

شی د هغه نه او دی به په اخرت کی د زیان والو نه وی.

**س۳۶/ د اسلام تعریف څه دی؟**

ج۳۶/ هغه: غاړه ایښودل دی خاص الله ته په توحید باندی، او تابع کیدل دی هغه لره په طاعت سره او بی زاره کیدل دی د شرک او مشرکانو نه.

**س۳۷/ د اسلام بنیادونه څه دی؟**

ج۳۷/ ګواهی ورکول ددی خبری چی د الله نه پغیر بل څوک په حقه مستحق د بندګی نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه بنده او رسول دی، د لمونځ قائمول، زکاة ورکول، د رمضان روژه نیول، د بیت الله حج کول د هغه چا لپاره چی د لاری طاقت یی وی، دلیل پری دا قول د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی: " الإسلام ان تشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة، تصوم رمضان وتحج البيت إن استطعت السبيل" رواه البخاري ومسلم، ترجمه: اسلام دادی چی ته ګواهی وکړی ددی خبری چی د الله نه پغیر بل څوک په حقه مستحق د بندګی نشته او یقینا محمد د الله رسول دی، او قائم کړی لمانځه لره، او ورکړی زکاة لره، او روژه ونیسی د رمضان، او حج وکړی د بیت الله که چرته طاقت لری د لاری.

**س۳۸/ د ایمان تعریف څه شی دی؟**

ج۳۸/ هغه: وینا ده په ژبه باندی، او عقیده ساتل دی په زړه کی، او عمل دی په اندامونو باندی، زیاتیږی په تابعداری سره او کمیږی په نافرمانی سره.

**س۳۹/ د ایمان بنیادونه څه دی؟**

ج۳۹/ ایمان په الله او ملائکو د هغه په کتابونو د هغه په رسولانو د هغه او په ورځ د اخرت او چی ایمان راوړی په تقدیر د خیر او شر، دلیل پری دا قول د رسول الله صلی الله علیه وسلم دی: " الإیمان أن تؤمن بالله وملائکته وکتبه ورسله والیوم الآخر وتؤمن بالقدر خیره وشره" رواه مسلم ، ترجمه: ایمان دادی چی ته ایمان راوړی په الله په ملائکو د الله په کتابونو د هغه په رسولانو د هغه په ورځ د اخرت او ته ایمان راوړی په تقدیر د خیر او شر.

**س۴۰/ ملائکی څوک دی؟**

ج۴۰/ ملائکی د غیبی دنیا مخلوق دی چی پیدا کړی شوی دی د نور نه، او الله پیدا کړی دی هغوی لره لپاره د خپل عبادت.

**س۴۱/ په ملائکو باندی د ایمان څه حکم دی؟**

ج۴۱/ واجب دی. ایمان پغیر ددینه نه قبلیږی.

**س۴۲/ په ملائکو کی غوره څوک دی؟**

ج۴۲/ جبریل علیه السلام او هغه مأمور دی په راوړلو د وحی.

**س۴۳/ اسمانی کتابونه څه دی؟**

ج۴۳/ اسمانی کتابونه هغه دی چی الله رسولانو علیهم السلام باندی نازل کړی، لکه تورات انجیل زبور او قران.

**س۴۴/ په کتابونو د ایمان څه حکم دی؟**

ج۴۴/ واجب دی. ایمان پغیر ددینه نه قبلیږی.

**س۴۵/ په اسمانی کتابونو کی د ټولو نه عظیم کتاب کوم دی؟**

ج۴۵/ په اسمانی کتابونو کی د ټولو نه عظیم کتاب قران مجید دی، کوم چی الله تعالی په محمد صلی الله علیه وسلم نازل کړی، او هغه د ټولو اسمانی کتابونو منسوخ کوونکی دی. پس د الله عبادت د قران مجید نه علاوه د نورو اسمانی کتابونو په ذریعه جائز نه دی، الله تعالی فرمایلی: ﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ﴾ المائدة ٤٨. ترجمه: او نازل کړی دی مونږ تاته کتاب (قران) د حق لپاره تصدیق کوونکی دی د هغه چی مخکی دده نه دی او څوکئ کوونکی دی د هغی.

**س۴۶/ دقیامت ورځ څه شی دی؟**

ج۴۶/ د قیامت ورځ هغه ده چې الله به ورکې ټول خلک دوباره د حساب او بدلې لپاره راپورته کړی.

**س۴۷/ د اخرت په ورځ ایمان څه حکم لری؟**

ج۴۷/ واجب دی. ایمان پغیر ددینه نه قبلیږی.

**س۴۸/ په تقدیر د ایمان راوړلو څه معنی ده؟**

ج۴۸/ په تقدیر باندی د ایمان راوړلو معنی داده چې الله تعالی په خپل سابق علم کی او د خپل حکمت د تقاضا مطابق د ټولو کائناتو او مخلوق تقدیر لیکلی او برابر کړی دی.

**س۴۹/ په تقدیر ایمان څه حکم لری؟**

ج۴۹/ واجب دی. ایمان پغیر ددینه نه قبلیږی.

**س۵۰/ احسان څه ته وایی؟**

ج۵۰/ احسان دیته وایی چې ته د الله عبادت په داسی طریقه وکړی ګویا کی چې ته الله وینی او اګر که ته الله نه وینی نو ته ایمان وساته چې الله تا وینی.

**س۵۱/ د ریا تعریف څه شی دی؟**

ج۵۱/ ریا: ادا کول د عبادت دی ددی لپاره چې خلک یی ووینی او صفت یی وکړی.

**س۵۲/ د ریا حکم څه دی؟**

ج۵۲/ ریا حرام ده او د وړوکی شرک نه ده، دلیل یی دا قول د نبی علیه الصلاة والسلام دی: " أخوف ما أخاف علیکم الشرك الأصغر، فسئل عنه فقال: الریاء" رواه أحمد وصححه الألباني، ترجمه: زه په تاسو باندی زیات د وړوکی شرک نه ویریګم د هغی په باره کی ترینه تپوس وشو نو هغه وویل چی: ریا.

## س۵۳/ نبی دی څوک دی؟

ج۵۳/ نبی می محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم دی او هاشم د قریشو نه دی او قریش د کنانو نه دی او کنانه د عربو نه دی او عرب د اسماعیل علیه السلام اولاد دی او اسماعیل ځوی د ابراهیم علیه الصلاة والسلام دی.

## س۵۴/ د محمد صلی الله علیه والسلام د نبوت غټی معجزی څه دی؟

ج۵۴/ د محمد صلی الله علیه والسلام د نبوت د معجزو نه غټه معجزه قران کریم دی او هغه د الله کلام دی چی هدایت شفا او نور دی، الله تعالی فرمایلی: ﴿ قُل لَّئِنِ ٱجۡتَمَعَتِ ٱلۡإِنسُ وَٱلۡجِنُّ عَلَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِمِثۡلِ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانِ لَا يَأۡتُونَ بِمِثۡلِهِۦ وَلَوۡ كَانَ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٖ ظَهِيرٗا ﴾ الإسراء ۸۸. ترجمه: ته او وایه کچری جمع شی انسانان او پیریان په دی خبره چی راوړی پشان ددی قران نو نشی

راوړی ددی پشان اګر که شی بعضی د دوی د بعضو لپاره مددګار.

**س۵۵/ د نبی صلی الله علیه وسلم غټ حقونه کوم دی؟**

ج۵۵/ ځنی د غټو حقونو د نبی علیه الصلاة والسلام نه په هغه باندی رشتینی ایمان دی، او الله هغه ټولو انسانانو او پیریانو ته لیږلی دی، تابعداری او اطاعت یی واجب ده، ده هغه تابعداری او اقتدا او د هغه د سنتو تعظیم، د نبی صلی الله علیه وسلم سره د خپل اهل او بچو او ټولو خلکو نه زیات محبت، د نبی صلی الله علیه وسلم عزت او احترام، او په هغه درود، د نبی صلی الله علیه وسلم په حق کی زیاتی نه کول د هغه نه پورته کول د پاسه د هغی منزلی نه چی الله ورله ورکړی، او ځان ساتل د هغه د نافرمانی نه.

**س۵۶/ سحر یا جادو څه شی دی؟**

ج۵۶/ سحر شیطانی عمل دی چی په زړونو او بدنونو حقیقی اثر کوی، او ځنی ددینه خیالات دی چی په سترګو اثر کوی چی هیڅ حقیقت نه لری.

**س۵۷/ کهانت څه شی دی؟**

ج۵۷/ کهانت دعوه د علم غیب ده په واسطه د پیریانو.

**س۵۸/ عرّاف څوک دی؟**

ج۵۸/ عـرّاف هغـه څـوک دی چـې د غیبـی کـارونو د پیژندلو دعوه کوی په داسی شیانو سره چی غلا او ورک شـی پری معلوموی، او چا ویلی: چی عرّاف نوم دی د کـاهن او منجم او رمّال او ددوی په شان هغه څوک چی خبری کوی پـه پیژنـدلو د غیبـی کـارونو پـه واسطـه د پیریـانو سـره، او د دوی د اعمـالو نـه دادی چی پـه ستورو او ورغـوی او پیـالیو باندی لوستل، او ددی شیانو پـه ذریعـه پـه غیبـی کـارونو دلیـل نیول.

**س۵۹/ عرّاف او کاهن او د دوی نه پغیر هغه څوک چی د علم غیب د پیژندلو دعوه کوی هغو ته تلل څه حکم لری؟**

ج۵۹/ ساحر او عراف او کاهن تـه تلل حـرام دی، صـحیح مسلم کی قول د نبی صلی الله علیه وسلم دی:" من أتـى عـرافـا فسئله عن شيء لم تقبل لـه صـلاة أربعين ليلـة" ترجمـه: څـوک چـی عرّاف تـه راغـی او د څـه شـی تپوس یـی تـری وکړه نـو څلویښت شپی یی لمونځ نه قبلیږی. او د ابی هریره رضـی الله عنـه نـه راویت دی چی نبی صلـی الله علیـه وسلم فرمـا یلـی: "من أتى عرافـا او كـاهنـا فصدّقه بمـا يقول، فقد كفر بمـا أنـزل علـى محمـد صـلـى الله عليـه وسـلم" رواه أحمـد وأبـوداود والترمذي، ترجمه: کوم کس چی عراف یا کـاهن تـه راغـی او د هغه د خبرو تصدیق یی وکړو نـو ده انکـار وکـه د هغـه څـه نـه چی پـه محمد صلی الله علیه وسلم نـازل شوی.

**س۶۰/ د سحر او د هغې د يادولو څه حكم دى؟**

ج۶۰/ سحر ټول حرام او كفر دى، يادول او خودل يې هم حرام دى، هيڅ شى يې مباح نه دى، الله تعالى فر مايلى: ((وما كفر سليمان ولكن الشياطين كفروا يعلمون الناس السحر)) البقرة ۱۰۲. ترجمه: او كفر نو كړى سليمان عليه السلام او ليكن شيطانانو كفر كوو چې خودلو يې خلكو ته جادو.

**س۶۱/ د برجونو په ذريعه قسمت معلومول او د مستقبل په باره كې د پيژندلو كوشش او د هغې تصديق كول څه حكم لرى؟**

ج۶۱/ دا د جاهليت د اعمالو نه دى، او په دعوه د علم غيب كې برابر دى د عرّافينو او منجمينو سره، نبى صلى الله عليه وسلم فرمايلى: " من اقتبس علما من النجوم فقد اقتبس شعبة من السحر زاد ما زاد" رواه أبوداود وإسناده صحيح، ترجمه: چاچې د ستورو په ذريعه علم حاصل كړه نو بيشكه هغه د جادو د شعبې نه يوه شعبه حاصل كړه، چې زياته يې حاصل كړه نو د جادو شعبه يې زياته حاصل كړه.

**س۶۲/ تمائم څه ته وايي يعنى تعويذونه؟**

ج۶۲/ تمائم جمع د تميمى ده او تميمه هر هغه څه ته ويلى كيږى چې بندونه يا هډوكى يا نور ليكل شوى شيان او يا پټى او تارونه او ټوټې يا نور چې د ماشومانو په غاړو او په متو

او کورونو او ګاړو کی اچولی شی په غرض د دفع کیدلو د مصیبت مخکی د راتللو نه یا پورته کیدل د مصیبت ورسته د واقع کیدلو نه.

**س۶۳/ د تمائمو څه حکم دی؟**

ج۶۳/ وړوکی شرک دی، او کله تری غټ شرک جوړیږی چی د نفع او نقصان عقیده ولری پغیر د الله نه، دلیل یی قول د نبی علیه الصلاة والسلام دی: " من علّق تميمة فقد أشرك" رواه أحمد وصححه الألباني، ترجمه: چا چی تمیمه واچوله نو شرک یي وکړو.

**س۶۴/ شرعی دمونه څه دی او څه حکم لری؟**

ج۶۴/ شرعی دمونه د قران او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابتی دوعاګانی په بیمار باندی لوستل او په کوم ځای چی درد وی په هغه ځای چوپ کول، او دم جائز دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرما یلی: " لا بأس بالرقى ما لم تكن شركا" رواه مسلم، ترجمه: دم اچول جائز دی تر څو چی شرک نه یی.

د دم اچولو د جواز لپاره شرط دادی چی د شرک نه به خالی وی او دا عقیده به یی وی چی په خپله ورکی هیڅ تاثیر نشته بلکی دا یو سبب دی او نفع او نقصان د الله په لاس کی

دی، بل دا چی په عربی ژبه به وی، او معنی به یی واضحه وی، بل دا چی د الله په کلام او نومونو او صفتونو به وی.

**س۶۵/ طیره څه شی دی؟**

ج۶۵/ طیره د مرغو په ذریعه ښه یا بد فال نیول.

**س۶۶/ حکم یی څه دی د دلیل سره؟**

ج۶۶/ حرامه ده او د وړوکی شرک نه ده، او کله تری غټ شرک جوړیږی کله چی عقیده ولری چی دا د الله نه ماسوا نفع او نقصان رسوی، دلیل پری د نبی علیه السلام قول دی: " الطيرة شرك" رواه أحمد وابو داود، ترجمه: چا چی د مرغو په ذریعه فال ونیوه نو شرک یی وکړ.

**س۶۷/ ایا د مرغو نه علاوه په بل څه فال نیولی کیږی.**

ج۶۷/ وو، لکه فال نیول په بعضی میاشتو یا ورځو یا حیواناتو او یا په بعضی معذور او عیب دارو خلکو، لکه ړوند شل وغیره.

**س۶۸/ د ستورو په ذریعه د باران غوښتل څه معنی لری؟**

ج۶۸/ انواء ستوری دی، او د باران غوښتل په ستورو سره دا معنی لری چی طلب د باران وکړی د ستورو نه، او یا نسبت د باران وکړی ستورو ته کله چی وشی.

**س۶۹/ طلب د باران په ستورو سره څه حکم لري؟**

ج۶۹/ دا په دوه قسمه دی، اول: کله چې دا عقيده ولري چې ستوري باران وروی دا کفر دی، ځکه دا د الله سره شرک دی.

دويم: او چې دا عقيده ولري چې باران الله پيدا کړی او هغه يې وروی لکن دا عقيده لري چې ستوري سبب دی نو دا وړوکی شرک دی ځکه چې دا نسبت د نعمت د الله دی بل چا ته، او ددی وجی نه چې الله ستوري سبب نه دی ګرزولی.

**س۷۰/ د ستورو په ذريعه د باران غوښتلو د حرمت دليل څه دی؟**

ج۷۰/ دليل يی قول د نبی عليه الصلاة والسلام دی چې الله ويلی:" من قال مطرنا بفضل الله ورحمته فذلك مؤمن بي وكافر بالكوكب، وأما من قال: مطرنا بنوء كذا وكذا فذلك كافر بي مؤمن بالكوكب" رواه البخاري ومسلم، ترجمه: چا چې وويل چې باران وشو په مونږ باندی د الله په فضل او رحمت نو ده ايمان راوړه په ما او انکار يي وکړه په ستوري، او چا چې وويل: چې باران وشو په مونږ باندی د فلانکی ستوري په وجه نو ده انکار وکړه زما نه او ايمان يی راوړه په ستوري.

**س۷۱/ په قبرونو باندی د مسجدونو جوړه ول څه حکم**

لری؟

ج۷۱/ حرام دی او دا وسیله د شرک ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرما یلی: " لعنت الله علی الیهود والنصاری اتخذوا قبور أنبیائهم مساجد" رواه البخاري.

ترجمه: په یهودو او نصاراو دی د الله لعنت وی د خپلو انبیاء د قبرونو نه مسجدونه جوړ کړی وه.

**س۷۲/ تبرّک څه معنی ده؟**

ج۷۲/ تبرک د برکت طلبولو ته وایی، برکت د خیر حصلولو او دهغی همیشوالی ته وایی.

**س۷۳/ د تبرک څو قسمونه دی؟**

ج۷۳/ اول: جائز تبرک، او هغه هغه دی چی د قران او سنت نه پری دلیل وی. دویم: ناجائز تبرک، او دا حرام دی.

**س۷۴/ د جائز تبرک څو قسمونه دی.**

ج۷۴/ جائز تبرک په دوه قسمه دی، اول: تبرک په هغه شیانو چی ښکاره وی، لکه تبرک د زمزم په اوبو.

دویم: تبرک په اعمال صالحو، لکه لمونځ دعا او صدقه.

**س۷۵/ د ناجائز تبرک څو قسمونه دی؟**

ج۷۵/ ناجائز تبرک په دوه قسمه دی، اول: هغه چی شریعت تری نه منعه کړی وی، لکه تبرک په بوتانو او هر

هغه شی چی د الله پغیر یی عبادت کولی شی.

دویم: هغه چی د وهمی اسبابو نه وی او هیڅ حقیقت نه لری، لکه تبرک په نیکانو او د هغی په جامو او لاړو او کاڼو بوټو.

## س۷۶/ په دعا کی د وسیلی څو قسمونه دی؟

ج۷۶/ په دعا کی د وسیلی دوه قسمونه دی، اول: جائز وسیله، او هغه هغه وسیله ده چی شرعی دلائل پری موجود وی.

دویم: ناجائزه وسیله، او هغه هغه وسیله ده چی شرعی دلیل پری نه وی او یایی تری منعه کړی وی.

## س۷۷/ په دعا کی د جائزی وسیلی څو قسمونه دی؟

ج۷۷/ په دعا کی د جائزی وسیلی دری قسمونه دی، اول: وسیله د الله په نومونو او صفتونو، لکه چی ووایی: ای رحمان په ما رحم وکړه.

دویم: وسیله په نیک عمل، لکه قول د الله تعالی: ﴿ رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴾العمران١٦. ترجمه:

ای ربه زمونږ یقیننا مونږ ایمان راوړی دی پس اوبښی مونږ ته ګوناهونه زمونږ او بچ اوساتی مونږ د عذاب د اور نه.

دریم: وسیله نیول په دعا غوښتلو د نیک سړی سره چی ژوندی او حاضر وی، لکه څنګ چی عکاشه رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه ددعا د غوښتلو طلب کړی وه چی الله یی د هغه اویا زره کسانو نه وګرزوی کوم چی جنت ته پغیر د حساب نه داخلیږی نو عکاشه بن محصن وویل: چی ای د الله رسوله زما لپاره د الله نه وغواړه چی ما د هغو اویا زره کسانو نه وګرزوی رسول الله صلی الله علیه والسلام وویل: ته د هغو نه یی.

## س۷۸/ په دعا کی د ناجائزی وسیلی څو قسمونه دی؟

ج۷۸/ اول: شرکی وسیله، او دا هغه وسیله ده چی شرک ورسره یوزي شوی وی، لکه نیکانو ته فریاد کول او د هغوی رابلل پغیر د الله نه لکه دا قول چی یا رسول الله مدد، او یا دا چی یا جیلانی مدد.

دویم: بدعی وسیله، او دا وسیله نیول دی په داسی طریقه چی شرعی دلیل پری نه وی، ځکه وسیله عبادت دی او په عبادت کی جائز نه دی هیڅ شی مګر په شرعی دلیل سره، او د بدعی وسیلی نه دا هم ده چی وسیله ونیولی شی په نیکانو بندګانو او یا د هغوی په مرتبی سره.

## س۷۹/ د قیامت په ورځ باندی به کوم شفاعت وی؟

ج۷۹/ دا واسطه ده الله ته د پاره د فایدی رسولو یو کس

ته یا نقصان لری کول د یو کس نه.

**س۸۰/ ایا د مړو نه شفاعت غوښتلی شی؟**

ج۸۰/ نه د مړو نه شفاعت نشی غوښتلی، ځکه شفاعت یواځی د الله په واک دی، الله ویلی: ﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًا﴾ الزمر۴۴. ترجمه: ته او وایه الله تعالی لره اختیار د ټول سفارش دی.

**س۸۱/ د شفاعت څو شرطونه دی؟**

ج۸۱/ د شفاعت دوه شرطونه دی، اول: د الله اجازت سفارش کوونکی ته د سفارش، الله ویلی: ﴿مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦ﴾ البقره ۲۵۵. ترجمه: څوک دی هغه کس چی سفارش اوکړی په نزد دده مګر په اجازت دده.

دویم: رضا منتیا د الله د هغه چانه چی هغه له سفارش کولی شی، الله ویلی: ﴿وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ﴾ الأنبیاء ۲۸. ترجمه: او سفارش نه شی کولی مګر صرف هغه چا لره چی غوره کړی یی وی.

**س۸۲/ د قیامت په ورځ به شفاعت د چا لپاره وی؟**

ج۸۲/ د موحدینو لپاره، دلیل پری قول د نبی صلی الله علیه وسلم دی: ((أسعد الناس بشفاعتي یوم القیامة من قال لا

إله إلا الله خالصا من قلبه)) رواه البخاري. ترجمه: په ورځ د قیامت زما د شفاعت مستحق کس هغه دی چی لا اله الا الله یی خالصه د زړه نه ویلی وی.

**س۸۳/ په الله تعالی او د هغه په کتاب او دین او رسول صلی الله علیه وسلم پوری ټوقی او مسخری څه حکم لری؟**

ج۸۳/ چاچی په دغه کی یو شی پسی مسخره وکړه حکم یی دادی چی هغه کافر دی، الله تعالی ویلی: ﴿ وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ﴾ التوبة ٦٥-٦٦.

ترجمه: او ووایه ایا په الله تعالی پوری او په ایاتونو د هغه پوری او په رسول د هغه پوری تا سو ټوقی کوی، بهانی مه کوی یقیننا کفر ښکاره کړی دی تاسو پس د ایمان ښکاره کولو نه.

**س۸۴/ د ولاء او براء څه معنی ده؟**

ج۸۴/ ولاء محبت او د الله او د هغه د رسول او مسلمانانو نصرت ته ویلی کیږی، او دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ ﴿٥٥﴾ وَمَن يَتَوَلَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ ﴾

المائدة ٥٥-٥٦. ترجمه: یقیننا د دوستانی لایق ستاسو الله تعالی دی او رسول د هغه دی او هغه کسان چی ایمان یی راوړی دی هغه مؤمنان چی پابندی کوی د لمانځه او ورکوی زکاة او دوی رکوع کوونکی دی الله تعالی ته او چاچی دوستانه وکړه د الله تعالی سره او د رسول دهغه سره او مؤمنانو سره پس یقیننا ډله د الله تعالی دوی غالب دی.

او براء: دشمنی او بغض دی د کفر او کافرانو سره، دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ﴾ الممتحنه ٤.

ترجمه: یقیننا شته دی ستاسو لپاره نمونه د تابعداری خایسته په ابراهیم علیه السلام او په هغه کسانو کی چی د هغه سره وو کله چی دوی وویل قوم خپل ته یقیننا مونږ بیزاره یو ستاسو نه او د هغه چا نه چی تاسو یی بندگی کوی سوا د الله تعالی نه انکار کوو ستاسو د طریقی نه او ښکاره ده په مینځ زمونږ او ستاسو کی دوشمنی او کینه همیشه تر دی پوری چی ایمان راوړی تاسو په الله تعالی چی یو دی په معبودیت کی.

**س٨٥/ کفارو ته د هغی د اختر مبارکی ویل څه حکم لری، لکه کرسمس؟**

ج۸۵/ شیخ ابن عثیمین رحمه الله فرمایی: چی کفارو ته په کرسمس او ددی نه ماسوا د دوی په دینی اخترو مبارکی ورکول په اتفاق د علماء حرام ده، لکه څنګ چی ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب (احکام اهل ذمه) کی نقل کړی. د شیخ ابن عثیمین رحمه الله فتاوی (۴۴/۳).

**س۸۶/ بدعت تعریف کړه؟**

ج۸۶/ الله تعالی لره عبادت کول دی په هغه طریقه باندی چی رسول الله صلی الله علیه والسلام او د هغه ملګرو نوی کړی.

**س۸۷/ په دین کی د بدعت څه حکم دی؟**

ج۸۷/ حرام دی او سخته ګونا ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: " إن خير الحديث كتاب الله، وخير الهدي هدي محمد صلى الله عليه وسلم، وشرّ الأمور محدثاتها، وكل بدعة ضلالة" رواه مسلم، ترجمه: بیشکه غوره خبری د الله د کتاب دی، او غوره په طریقو کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم طریقی دی، او ناکاره په کارونه هغه دی چی په دین کی د ځان نه جوړ شوی وی، او هر بدعت ګمراهی ده.

**س۸۸/ ایا په اسلام کی بدعت حسنه شته؟**

ج۸۸/ په اسلام کی بدعت حسنه نشته، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: " كل بدعة ضلالة) رواه مسلم، ترجمه:هر بدعت ګمراهی ده.

**س۸۹/ د اهل بدعو سره څنګ رویه پکار ده؟**

ج۸۹/ د اهل بدعو نه ځان ساتل، نور تری ویرول، مجلسونه یی پریښودل، او کتابونه یی نه کتل، واجب دی، ابن عباس رضی الله عنهما ویلی دی:" لا تجالس أهل الأهواء فإن مجالستهم ممرضة للقلوب" الإبانة ۴۳۸/۲. ترجمه: د خواهش پرستو سره مه کینه ځکه د هغو سره کیناستل زړونه بیماروی.

امام بغوی رحمه الله فرمایلی:"وقد مضت الصحابة والتابعون واتباعهم وعلماء السنن على هذا مجتمعين متفقين على معاداة أهل البدع ومهاجرتهم" شرح السنة ۱۲۷/۱، ترجمه: صحابی کرام او تابعین او تبع تابعین او علماء سنن ټول د اهل بدعو سره په دشمنی او پریښودلو متفق دی.

**س۹۰/ لمونځ پریښودلو څه حکم دی؟**

ج۹۰/ دلمونځ پریښودل کفر دی، حدیث د جابر رضی الله عنه دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرما یلی: " إن بين الرجل وبين الشرك والكفر ترك الصلاة" أخرجه مسلم، ترجمه: بیشکه د سړی او د شرک او کفر په مینځ کی فرق د لمونځ پریښودل دی.

**س۹۱/ په ناحقه د مسلمانانو کافر کول څه حکم لری؟**

ج۹۱/ حرام دی او سخته ګونا ده، رسول الله صلی الله

علیه وسلم فرمایلی: " أيّما رجل قال لأخيه يا كافر فقد باء بها أحدهما إن كان كما قال وإلا رجعت عليه" رواه البخاري ومسلم. ترجمه: چا چی خپل ورور ته وویل چی ای کافره، که داسی وه نو صحیح ده او که نه وه نو دغه خبره بیرته په ده راوګرزیده.

**س۹۲/ د اصحابو رضی الله عنهم په باره کی په مسلمان څه واجب دی؟**

ج۹۲/ په مسلمانانو باندی د هغوی سره محبت واجب دی، او دا عقیده لرل چی دوی د انبیاء او رسولانو نه ورسته غوره خلک دی، او خپله ژبه د هغوی نه بندول او په ښوو یی یادول، او هیڅ یو صحابی ته کنځلی کول حرام دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرما یلی:" لا تسبوا أصحابي فو الذي نفسي بيده لو أن أحدكم أنفق مثل أحد ذهبا ما بلغ مدّ أحدهم ولا نصيفه" رواه البخاري ومسلم. ترجمه: زما ملګرو ته کنځلی مه کوی زما دی په هغه ذات قسم وی چی زما روح د هغه په لاس کی دی کچرته یو تن په تاسو کی د احد د غره په مقدار سره زر خرچ کړی نو د اصحابو یو موټی او نه نیم موټی ته رسیدلی شی.

**س۹۳/ د اصحابو په غوره والی څه دلیل دی؟**

ج۹۳/ دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿وَٱلسَّـٰبِقُونَ

ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾ ﴾التوبة١٠٠. ترجمه: او مخکی کیدونکی ایمان ته چی ړومبی دی د مهاجرینو او د انصارو نه او هغه کسان چی تابعداری کوی د دوی په ښه وینا کولو سره رضا دی الله تعالی د دوی نه او دوی رضا دی د هغه نه او تیار کړی دی دوی لره جنتونه چی بهیږی لاندی دهغی ولی، همیشه به وی دوی په هغی کئ همیشه دا کامیابی لویه ده.

**س۹۴/ په اصحابو کی زیات غوره څوک دی.**

ج۹۴/ د ټولو نه غوره په اصحابو کی خلفاء اربعه دی چی ابوبکر الصدیق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان، علی بن ابی طالب بیا باقی هغه لس کسان دی چی په جنت ورته زیری ورکړی شوی وه.

**س۹۵/ د ولاة الامور نه څه مقصد دی.**

ج۹۵/ د ولاة الامور نه د مسلمانانو حکمرانان مراد دی.

**س۹۶/ د حکمرانانو په باره کی په مسلمانانو څه واجب دی؟**

ج۹۶/ د هغوی خبری اوریدل، او د هغوی تابعداری کول په هغه څه کی چی د الله نافرمانی پکی نه وی، دهغوی خیر

خـواهی لتـول، او هغـی تـه دعـا کـول، او دهغـی د عیـب ځـان ساتل پـه منبرونـو او مجالـسو کـی ځکـه چـی ددینـه فتنـه پیـدا کیږی.

### س۹۷/ د حکمرانانو په تابعداری څه دلیل دی؟

ج۹۷/ دا قول د الله تعالی دی ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ ﴾ النـساء۵۹. ترجمـه: ای ایمـان والـو حکـم منی د الله تعالی او حکم منی د رسول صلی الله علیه وسلم او د حاکمانو ستاسو نه.

او قول د رسول صلی الله علیه وسلم دی: " الدین النصیحة قلنـا لمـن یـا رسـول الله؟ قـال: لله ولکتابـه ولرسـوله ولأئمـة المسلمین وعامتهم" رواه مسلم، ترجمه: دین خیر خواهی ده، مونږه وویل چی د چا لپاره ای د الله رسوله، هغه وویل: چی د الله لپـاره او د هغـه دکتـاب لپـاره او د رسـول لپـاره او د مسلمانانو د حکمرانانو لپاره او د عامو خلکو لپاره.

### س۹۸/ د مسلمانانو حکمرانانو لپاره خیر خواهی به په څه طریقه وی؟

ج۹۸/ پـه پټـه بـه وی، رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمـایلی: " مـن أراد أن ینـصح لـذي سـلطان فـلا یبـده علانیـة، ولکن یأخذ بیده فیخلو بـه فـإن قبل منـه فذاك وإلا کـان قد أدّی

الـذي عليـه" رواه أحمـد وغيـره وصـححه الألبـانی وابـن بـاز رحمهمـا الله، ترجمـه: پـه تاسـو کـی چـی څـوک حکمـران تـه نصیحت کول غواړی نو په ښکاره دی نـه کـوی بلکـی د لاس نه د ونیسی او ځان له دی کړی که خبره یی ورلـه ومنلـه خـو ښه او که وی نه منله نو خپله ذمداری یی ادا کړه.

**س۹۹/ په وخت د فتنو کی پـه مسلمان څـه واجب دی د دلیل سره یی ذکر کړه؟**

ج۹۹/ ځان د فتنو نه جودا کول او د مسلمانانو د جماعت او امام سره یو ځای کیدل، او د پوهه علماؤ نه تپوس کول واجب دی، دلیل پری دا قول د الله تعالی دی: ﴿ وَإِذَا جَآءَهُمۡ أَمۡرٞ مِّنَ ٱلۡأَمۡنِ أَوِ ٱلۡخَوۡفِ أَذَاعُواْ بِهِۦۖ وَلَوۡ رَدُّوهُ إِلَى ٱلرَّسُولِ وَإِلَىٰٓ أُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنۡهُمۡ لَعَلِمَهُ ٱلَّذِينَ يَسۡتَنۢبِطُونَهُۥ مِنۡهُمۡۗ وَلَوۡلَا فَضۡلُ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَتُهُۥ لَٱتَّبَعۡتُمُ ٱلشَّيۡطَٰنَ إِلَّا قَلِيلٗا ٨٣ ﴾النساء۸۳. ترجمه: کله چی راغی دوی ته خبر د امن یا د ویری خوروی دوی هغه او که رسولی وی دوی هغه رسول ته او پوهه خلکو ته د دوی نه خامخا پوهه شوی به وی په دی هغه کسان چی معلوموی هغی لره ددوی نه او که نه وی فضل د الله تعالی په تاسو باندی او رحمت د هغه خامخا تابعداری به کړی وی تاسو د شیطان مګر لګ کسان.

**س۱۰۰/ اهل سنت او جماعت څوک دی؟**

ج۱۰۰/ اهل سنت او جماعت هغه څوک دی چی عمل یی کړی وی په طریقو د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د ملګرو او تابعینو او هغه څوک چی د هغوی لار یی اختیار کړی ده په عقیده قول او عمل کی.

وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه اجمعین.